مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۰/۱۰

# لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۱۵مه برخه

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۴۰۳مه برخه

ګران دوست او پرکاره فرهنګي عبدالعزیز نائیبي یوځل بیا د خپلو دایمي مهربانیو له مخې د یوخواږه پیام په ملتیا، څو نوي لنډۍ رالېږلي دي. دا يې زما په نامه د لنډ پیام متن دی:

«ګران استاده سلامونه نیکي هیلې!

دا څو نوري لنډۍ هم تاسو سره شریکوم. روغتیا او سلامتي مو غواړم!»

زه د نویولنډیو د راخوندي کولو په کار کې د نائیبي صاحب له دایمي همکارۍ نه په مننې سره د ده رالېږلي لنډۍ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

### څولنډۍ

**کده به تورو غرو ته بار کړم**
**چې د نفرت اورونه مړه شي، رابه‌شمه**

**کور دې نېږدې، دیدن دې نه‌شي**
**د کوه قاف تر غره دې جګ دې دېوالونه**

**کبر مې کړو، زوال مې وموند**
**لکه سپوږمۍ په ځوانۍ تندر ونیومه**

**کتاب ته ناسته یم زنګېږم**
**خیال کې مې ته يې؛ پاڼې دوه، دوه اړومه**

**له خوبه پورته شه نېکبختي**
**د پیشلمي اوره دې غوا خوړلې‌دینه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

مئین دې یم، مزدور دې نه یم
په هر محفل کې په ما مهکوه امرونه

ما ته د سترګو تاوان راکړه
چې ته به نه وې، ما به لارې ته کاتنه

مینه دې نه ده، وچ کلک ټوخ دی
په ما د ژمي شپه په ویښه تېروینه

ما ته مستې راوړه جانانه
کورت ډېرمالګین دي، په ما تنده راولینه

جانان مې ستوری د عقرب دی
د تورو غرو په سر یې وچ کړل زیړ ګلونه

چې په پنجاب کې مې خښ نهکړې
بېننګه خاوره د چا څه پروا کوینه

خلک په کرکو نه شرمېږي
زه به د مینې کیسې ولې پټومه

ځنګه د نیمې لارې مل وې
بېننګه یاره په قسم دې تېروتمه

انار یې وخوړ، خوله یې سره شوه
چا وېل د واورې په غره اور ولګېدنه

بیا د سهار بانګونه وشول
ژونده اوږو ته مې راخېژه چې دې وړمه

ته د عربو لمر ستې کړې
زه دې د کور په تناره کې ستيشومه

په تا کې ټکی مستې نهشته
په ما دې واړول د چایو ګیلاسونه

پرما دې غم لکه غر پروت دی
ګېډۍ، ګېډۍ زُلفې دې بل څوک سموینه

دُنیا د پاڼ پرسر ولاړه
لالیه غاړه راکوه، قیامت به شینه

د دیدن وږي به ماړه کړم
د کلي منځ کې به مخلوځې تېرهشمه

سپینې کوټې یې کندوالې کړې
زما یادېږي د کېږدیو شمالونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سترگي دي خلاصي کړه، خوب پرېږده**
**ګنې تولکور دې په نارو راويښومه**

**شپې ته ببخي نه پاتې کېږم**
**ليلا دې خپله چرګه نه حلالوينه**

**هغه ده لاړه، پناه کېږي**
**شال يې رپېږي د چا کور به ورانوينه**

**زما دې تور ويښته راسپين کړل**
**په سر نکريزې لګوم، سپين‌سرې شومه**

**دا خو لا زه يم، چې ولاړ يم**
**د بېلتون درد ولاړې ونې وچوينه**

**راځه ويده شو انتظاره**
**هغه بې غمه لالی هسې نه راځينه**

**زما دې ستا په سر قسم وي**
**چې په تا غم وي، دلته زه ډنګره شمه**

**د مسافرو وورکو ميندې**
**چې د جاز غرشي، دوی بلی ته وخيژينه**

**ياره په ما به نه ورانيږي**
**غم به مې تا باندې هم مځکه ګرځوينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ